# د قبر عذاب او نعمت

راټولوونکی : عبدالحق ثاقب

**اپریل ۲۰۲۳**

Ketabton.com

د قبر عذاب او نعمت یوه له هغو جنجالي موضوعګانو څخه ده چې په اوسنیو وختونو کې یې د خلکو پام ځان ته اړولی دی ، ځینې علماء له دې څخه منکر ښکاري ، او عامه ذهنونه یې پر دې مغشوش کړي چې ګویا د قبر عذاب نشته . په دې لیکنه کې هڅه شوې ، د قبر عذاب د قرآن کریم پر آیتونو ، احادیثو او په علم او فلسفه ثابت کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ليکنه کې مو هڅه کړې ، د قبر عذاب د قران کريم پر ايتونو ، د پيغمبر عليه السلام پر احاديثو او علم باندې ثابت کړو . دا په داسې حال کې ده چې ځينې له دين ناخبره کسان تر منکر دي چې په اسلامي ټولنه کې يې د بې علمۍ له وجهې ستره فتنه جوړه کړې .

انسان له مرګه وروسته له دوه حالتونو سره مخ کيږي، يا به په نعمتونو او يا به په عذاب کې وي ، په دې اړه د الله تعالى په کتاب قران کريم کې ګڼ نصوص راغلي دي ، الله ﷻ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په يو خطاب کې فرمايي : ( ولو ترى اذ الظالمون فى غمرات الموت والملائكة باسطوا ايديهم ، اخرجوا انفسكم ، اليوم تجزون عذاب الهون )

ژباړه : وبه ګورې ظالمان چې د مرګ په سکراتو کې به وي او ملايکو به ورته خپل لاسونه ور غځولي وي ، وايې به يو بل ته چې روح يې راوباسئ ، نن به تاسې ته سپک عذاب درکړل شي ) له دې څخه مراد هغه ورځ ده چې ساه يا روح يې وځي ، نه د قيامت ورځ . نو دا يو ستر دليل دى چې ظالمان به سمدلاسه له مرګ وروسته دالله له عذاب سره مخامخ کيږي . دا د قبر پر عذاب ښکاره دليل دى . بل ځاى الله تعالى فرمايي : فكيف اذا توفتهم الملائكة يضربون وجوههم وادبارهم ) ژباړه : څنګه به وي هغه حالت چې ددوى ارواح د مرګ ملائکې اخلي ، دوى به خپل مخونه او شاګانې وهي . له دې څخه مراد دا نه دى چې دوى به د قيامت پر ورځ ځانونه وهي ، نه ! دوى به د برزخ په ژوند کې له دې حالت سره مخامخ کيږي .

الله ﷻ د فرعون او د هغه د ملګرو په اړه وايي : ( وحاق بآل فرعون سوء العذاب ) ژباړه : فرعون او دهغه ملګري په بد عذاب ګرفتار شول . نو دغه بد عذاب به کوم وو ؟ وروپسې ايت شريفه کې يې واضح کړى ، الله تعالى فرمايې : ( النار يعرضون عليها غدوا وعشيا ، و يوم تقوم الساعة ادخلوا آل فرعون اشد العذاب ) ژباړه : پر فرعون او ملګرو به يې سهار او ښګاه عذاب وړاندې کيږي ، او کله چې قيامت راشي ، وبه ويلى شي چې د فرعون ملګري سخت عذاب ته ورداخل کړئ !

ومو ليده چې عذاب به چېرته وي ؟ ثابته شوه چې له قيامت وړاندې به ظالمان له بد عذاب سره سهار او ښګاه او هر مهال مخ کيږي . تر دې به بل ښکاره دليل د قبر پر عذاب چيرته وي ؟ د برزخ په ژوند کې به دوى له سخت عذاب سره مخامخ وي .

خو اوس يوه بله مهمه موضوع ده چې هر چاته ښايي پيدا شي ، هغه دا چې آيا دغه عذاب روح او بدن دواړو لپاره دى ؟ او که يوازې د بدن او يا يوازې د روح لپاره دى ؟

جمهور علماء پر دې آند دي چې نعمتونه د بدن او روح دواړو لپاره دي ، همدا ډول عذاب هم د بدن او روح لپاره دى . خو دلته پوښتنه دا پيدا کيږي چې انسان له مرګه وروسته يو کال يا دوه کاله وروسته ختميږي او بدن يې خاورې کيږي ، نو څنګه به نعمتونه او عذاب ورکوي . .. علماء ددې ديني نه ، بلکې علمي جواب وايې . د مسلمانانو فيلسوفانو ، لکه فارابي ، ابن رشد ، ابن سينا ټولو پر دې بحث کړى ، او دا يو علمي حقيقت دى .

انسان په دنيا کې دوه ترکيبه لري ، په دې مانا چې انسان له بدن او روح څخه جوړ دى . او کله چې انسان وفات شي ، او د بررزخ ژوند ته انتقال شي ، بيا هم همدغه دوه ترکيبه له ځانه سره لري چې عبارت دى له جسد يا بدن او روح څخه . خو توپير يې دادى چې په دنيا کې روح د بدن لپاره محبوسه يا بندي وي . دا په دې مانا چې اروا په فضاء کې ګرځېده ، د الله ﷻ اراده وه چې دا روح يا اروا د بدن په دغه پنجره کې بندي کړي ، دا به د يوې ټاکلې مودې او د انسان د عمر په اندازه بندي وي . نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکومه چې روح په دې بدن یا جسد کې بندي وو ، د بدن له حرکت سره یوځای حرکت کوي او تر دې هاخوا نور هیڅ نه شي کولی ، ځکه دا روح په دې پنجره کې بندي دی . خو کله چې انسان وفات شي دا حالت بدل شي ، له دې وروسته بدن د روح تابع شي ، حال دا چې په دنیا کې روح د بدن تابع وو . کله چې انسان په غوره خاتمې او ایمان سره وفات شي ، روح یې فضاء ته وخیژي او په هواء کې ګرځي ، داسې شي لکه څنګه چې پخوا وو او د انسان په بدن کې بندي شي . خو د روح اړیکه له دې جسد سره دوامداره وي او هیڅ انقطاع نه پیدا کیږي . دا حالت تیار د لمر وړانګو ته ورته دی ، ګورئ چې لمر له ځمکې ډېر لیرې دی خو وړانګې یې موږ ته راغځېدلي دي . روح هم خپلې وړانګې لري ، په هواء او فضاء کې ګرځي او چکرې وهي ، خو وړانګې یې د انسان له بدن د جسم له ټولو ذراتو سره اړیکه لري . په همدې تړاو بدن د نعمت او عذاب احساس کوي .

انسان ډیری وختونه کله چې دا علمي حقیقتونه واوري ، نو هڅه کوي چې د برزخ یا د قیامت حالت او د آخرت ژوند له هغه حالت سره مشابه کړي چې دی یې په دنیا کې تجربه کوي . دی یې سمدلاسه د خپل ذهن تلې (ترازو) ته واچوي ،خو دا یوه تېروتنه ده ، ځکه هغه حالت ته باید ددنیا په ذهن ونه کتل شي . سمدلاسه وایې ، نه والله ، دا خو عقل نه مني ، او یا یې عقل مني ... مغرض انسانان دا مهال مختلفې ناوړه سیناریو ګانې جوړې کړي . دا انسان چې څه اوري سمدلاسه یې ددې دنیا په قانون کې کیږدي . خو په یاد ولرئ چې له مرګه وروسته هلته بل قانون دی . ددنیا دغه قوانین چې موږ یې په ښوونځیو ، پوهنتونو او مراکزو کې وایو او مطالعه کوو ، دا د همدې دنیا له ژوند سره برابر دی ، کله چې له دې دنیا کوچیږو ، دغه قوانین هم نور ورسره ورټولیږي ، هلته بیا نور قوانین رامنځته کیږي . دا چې موږ په هغه دنیا کې ژوند نه دی کړی ، دا یوه تېروتنه ده چې ددې دنیا قوانین پر هغه جهان عملي او یا حاکم کړو . الله ﷻ د ژوند د ټولو برخو لپاره جلا جلا قوانین وړاندې کړي او په قران کې او احادیثو کې یې واضح کړي دي .

دا هم اړینه نه ده چې له قرآن کریم څخه دې په ډېرو ښکاره الفاظو یادونه وشي ، که څه هم د قبر د عذاب په اړه ډېره ښکاره یادونه شوې ده ، له دې څخه انکار نو بیا جهالت دی او په دې آیتونو سترګې پټول دي . د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې هم یادونه شوې ده ،

رسول الله ﷺ یوه ورځ په دوه قبرونو باندې تېرېده ، ملګرو ته یې وویل ، په دې دوه قبرونو باندې ډېر سخت عذاب دی او دوی په داسې ډېره غټه ګناه هم خدای نه دی رانیولي ، په دې مانا چې دوی کولی شول ځان ترې وساتي ، یو چې وو د خلکو ترمنځ به یې چغل خوري کوله ، او بل به د تشو متیازو له څاڅکو ځان نه ساتلو . په حدیثونو کې ډېر ګڼ دلایل شته چې په قبر کې نعمتونه او عذابونه شته .

کله چې یو کس وایې په قران کریم کې د قبر پر عذاب یا نعمت دلیل نشته ، نو ورته ووایه چې له کومه ادرسه تاسې د ماخوستن څلور رکعته فرض لمونځ کوئ ؟ په قران کریم کې خو دا یادونه نه ده شوې . یو کس چې د ماښام لمونځ شپږ رکعته کوي ، پر هغه هم انکار نه شي کولی . همداسې ګڼ مثالونه شته . همدا ډول د زکات مسایل او نور فروع او آن اساسات په حدیثونو کې راغلي دي . دا ډېره له حقیقته لیرې خبره ده . دا ډول خلک په خپل مزاج دین تعبیروي .

خو ځینې بیا په دې آند دي چې نعمت او عذاب د روح لپاره دی او بدن د هیڅ شي احساس نه شي کولی ، خو دا یوه تېروتنه ده . درد د بدن لپاره دی ، هم د قیامت پر ورځ او هم د برزخ په ژوند کې . دلیل یې دادی چې ، روح دلته هیڅ ګناه نه ده کړې ، روح خو له پاکې فضاء څخه راغله او په دې بدن کې بندي شو ، دا چې روح د یو کافر په بدن کې ځای پر ځای شو ، بیا هم روح

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل خالق سره دوستۍ ته لیواله ده . دا روح همېش ددغه ملحد او کافر انسان له بدبختیو سره په تکلیف او ازار کې وه او ورسره مخالف وو . نو عذاب د بدن لپاره دی نه د روح لپاره . روح یوازې د بریښنا رول اداء کوي، کله چې د بدن خاوند د عذاب مستحق وي ، دا روح ورته عذاب را انتقالوي ، خو کله چې بدن د نعمت مستحق وي ، دا روح بیا ورته نعمتونه را انتقالوي .

نو په لنډه ویلی شو چې ، روح یا اروا یوازې د یوې بریښنا په څېر ده  چې بدن ته احساس او شعور لیږدوي .

بله موضوع داده چې ، کله جنت او دوزخ دواړه د قیامت پروړځ فیصله کیږي ، نو بیا عذاب وړاندې ولې ورکول کیږي ؟

نېک انسان چې کله له ښې او نېکې خاتمې سره وفات شي ، نو اعتبار خاتمې ته دی ، کله چې دا انسان د ځنکدن پر مهال کلمه تکراروي او همېش یې ژوند د الله په پیروۍ کې تېر کړي وي ، په قبر کې هم نکیر او منکر سره دهغه حساب او کتاب په بریالۍ سره تېر شوی دی . دا ملایکې ورته په قبر کې وایې چې په دوزخ کې دې خپل ځای ته وګوره ، دا ځای ستا لپاره الله په جنت بدل کړی . دا په دې مانا چې ستا لپاره په دوزخ کې ځای وو ، خو هغه ځای لغوه شو او الله درته دهغې پرځای په جنت کې ځای درکړ . الله ﷻ ورته دا ځایونه په قبر کې وربښایی . نوموړی انسان ددې نعمتونو په لیدو خوند اخلي ، او د قیامت د انتظار شپې سبا کوي ترڅو همدغه ځای ته د قیامت پر ورځ داخل شي ، همدغه منظره د نېک انسان زړه ته خوشالي ورکوي ، او په مقابل کې هغه بد او کافر انسان دی ، هغه انسان چې د قبر په امتحان کې ناکام شي ، هغه ته ویل کیږي چې په جنت کې دې ځای ته وګوره ! دا هغه ځای دی چې تاته یې په دوزخ بدل کړ . نوموړی بدبخته انسان د قیامت تر ورځې له دې حالته ځوریږي .

راټولوونکی : عبدالحق ثاقب

خپل نظریات راسره دلته شریک کړئ : abdulhaqsaqib@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**